SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونی کي دوه ځله خپریږی

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

پنځم کال لسمه گڼه پرله پسي (۲۹۷) یکشنبه د۱٤۲۰هـ ق کال د شوال المکرم (۳۰)د۱۳۷۸هـ ش کال د سلواغي (۱۷)د۲۰۰۰میلادي کال دفبروری(٦)

دپاکستان داسلامی جمهوریت دمرستی :

یوسل او څلورنوی ټنه اوړه کابل ته راورسیدل

دپاکستان داسلامی جمهوریت دمرستی یو سلو څلورنوی ټنه اوړه په دي وروستیو وختوکی کابل ته راورسیدل.

دباختراطلاعاتی آژانس خبر راکړ دپخوانیو کاروانونو درارسیدو په لړ کی په دی وروستیو وختوکی د پنځلسو موټرو په وسیله یو کاروان چی دپاکستان داسلامی جمهوریت دمرستی یو سلو څلور نوی ټنه اوړه پکی بار دی کابل ته راورسید.

او ددغه هیواد دهیات لخوا دبهرنیو چارو وزارت اداری رئیس محترم مولوی سلیمان ته وسپارل شول چی په کورودانی سره ومنل شول.

دغه اوړه دافغانستان له اسلامی امارت سره دپاکستان داسلامی جمهوریت دوړیا مرستی دهغو پنځه زره ټنو غنمو دجملی نه دی چی دلیږلو لړی یی روانه ده.

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) ډیر نږدي دی تقوا(پرهیزگاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

محترم معاون ریاست الوزرأ طی ملاقاتی بایکتن از قوماندانان :

مجاهدین اردوی اسلامی باید در پرتو ارشادات اسلامی در خدمت مردم قرار داشته باشند

دفاع از ارزشهای نظام اسلامی مسئولیت هرهموطن مسلمان ماست

خدمت در راه تحقق احکام الهی بزرگترین افتخار ما و شما می باشد

محترم مولوي عبدالکبیر معاون ریاست الوزراء قبل از ظهر دیروز در دفتر کارشان یکتن از قوماندانان خطوط جبهه شمالي را غرض ملاقات بحضور پذیرفتند.

دفتر مطبوعاتي ریاست الوزراء به آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد: در آغاز محترم مولوي اظهار الله یکتن از قوماندانان خطوط جبهه شمالي گزارش پیرامون آماده گي دفاعي وموورال بلند مجاهدین که بخاطر تأمین صلح و امنیت درمناطق مذکور وظایف شانرا شب و روز در همکاري بامردم با فدا- ص ٤

داطلاعاتو او کلتور محترم وزیر دبغلان ښار ته ورسید

داطلاعاتو او کلتور وزیر محترم الحاج مولوی قدرت الله جمال چی دفرهنگی او نشراتی چارو او فعالیتونو دسمون په مقصد دهیواد دشمال سیمو ته تللی دی په دی وروستیو وختوکی دبغلان ښار ته ورسید.

دبغلان له ولایت نه دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ داطلاعاتو اوکلتور محترم وزیر چی دیوه هیات په، مخ

دعامی روغتیا د محترم وزیر لخوا :

دشمالی ولایتونو دروغتیایی چارو څیړل کیږی

دعامی روغتیا وزیر محترم الحاج ملامحمد عباس آخند چی دهیواد دشمال دسیمو دولایتونو دروغتیایی چارو دڅیړنې په مقصد دغو ولایتونو ته تللی دی پرون دسمنگان ښار ته ورسید.

دفاریاب له ولایت نه دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ دعامی روغتیا محترم وزیر په هغی غونډه کی چی دفاریاب ولایت دعامی روغتیا درئیس او چارواکو او د روغتونونو د ډاکترانو په گډون جوړه شوه برخه ٤ مخ

دآریانا افغان هوائی شرکت په وسیله به افغانی حجاج سعودی عربستان ته لیږدول کیږی

سږکال به هم دافغانستان د اسلامی امارت د حج او اوقافو دوزارت لخوا افغانی حاجیان د آریانا افغان هوائی شرکت لخوا سعودی عربستان ته دحج دفریضی د ادا کولو لپاره لیږدول کیږی په دی اړه دحج او اوقافو د وزارت مسلکي معین محترم مولوی محمد مسلم حقانی له شریعت غږ راډیو سره په مرکه کی داسی وویل :

دتیرو کلونو په څیر به سږ کال هم افغانی حجاج دسعودی عربستان دجدی ښار ته د آریانا افغان هوائی شرکت لخوا لیږدول کیږی.

نوموړی دافغانی حاجیانو ٤ مخ

دمنځنیو طبی زده کړو دموسسی لخوا :

دنرسنگ اولابرانت په څانگو کی دشمولیت آزموینه واخستل شوه

دمنځنیو طبی زده کړو د موسسی دنرسنگ او لابرانت په څانگوکی دشمولیت لپاره دنهمو ټولگیو دفارغانو دکانکور ازموینه پرون واخستل شوه.

دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ ددغی ازموینی بهیر چی دمدرسو دنهمو ټولگیو بوزیات شمیر فارغانو پکی گډون کړی و دعامی روغتیا وزارت معین محترم شیر محمد عباس ستانکزی وکوت.

دنهمی حوزی له درملتونونو څخه :

یوه اندازه تروخت تیر درمل تر لاسه شول

دعامی روغتیا وزارت د روغتیایی قوانینو او پلټنی ریاست د موظف هیات د څارنی له امله دکابل ښار د نهمی ناحیی له بیلابیلو درملتونونو څخه یوه اندازه تیر تاریخ او کمکی درمل ترلاسه او له منځه یوړل شول.

دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ د عامی روغتیا وزارت دموظف هیات دپلټنی له امله په دی وروستیو وختو کی دکابل ښار دنهمی ناحیی له درملتونونو او دډاکترانو له کتنځایونه دتیر تاریخ یوه اندازه ٤ مخ

دپکتیا ولایت دسید کرم په ولسوالی کی :

داسلامی امارت دهدفونو د پلی کولو ملاتړ وشو

دپکتیا ولایت دسید کرم ولسوالی دبیلا بیلو کلیو اوبانډو دیندارو خلکو او مخورو په دی وروستیو وختوکی په خیلو اړوندو سیمو کی دقومی جرگو په جوړولو سره دافغانستان داسلامی امارت دشرعی هدفونو اوکړو وړو دتائید کولو په ترڅ کی دهغو دعملی کولو په لاره کی خپل تیاری څرگند کړ.

دپکتیا له ولایت نه دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ دغه جرگی چی په دی وروستیو وختوکی دامارتی چارواکو علمای کرامو قومی مشرانو او دپکتیا ولایت د سید کرم ولسوالی دکمال خیلو احمد شاه خیلو ، شاعلم خیلو ، شمشیر آباد ، دولت خیلو ، قواجی خیلو ، اتک خیلو ، سید خیلو ، نصرت خیلو ، ٤ مخ

دگردیز ښار دصالو خیلو جامع جومات پرانستل شو

دگردیز ښار دصالو خیلو جامع جومات چی په یوه وخت کی زرتنه لمونځ کوونکی پکی ځایری په دی وروستیو وختو کی پرانستل شو ٤ مخ

سی و ششمین کنفرانس بین المللی روی مسائل امنیتی افتتاح گردید

سي و ششمین کنفرانس بین المللي روي مسائل امنیتي دیروز در شهر میونیخ آلمان افتتاح گردید.به گزارش منابع خبري بین المللي در کنفرانس مذکور دوصد نماینده و کارمندان امور نظامي کشور هاي مختلف جهان شرکت ورزیده اند. شرکت کننده گان این کنفرانس مسائل مختلف امنیتي دفاع اروپا مسئله کاسوو وامنیت کشور هاي نوظهور در آسیا مورد بحث قرار خواهد گرفت .درین کنفرانس منشي عمومي ناتونیز اشتراك ورزیده است .

جعبه سیاه طیاره سقوط یافته کینیا دریافت گردید

طیاره مسافر بري کشور کینیا را که روز یکشنبه گذشته در سواحل ساحل عاج در بحر سقوط نموده بود پیدا کرده است کارشناسان امیدوار اند بادستیابي این جعبه سیاه و اطلاع از گفت واظهارات پیلوتان در هنگام سقوط طیاره مذکور که در جعبه سیاه ثبت شده از علت سقوط آن کسب اطلاع خواهد نمود. ص ٤

حکومت انگلستان به اردوي جمهوري خواه آیرلند شمالي هشدار داد

حکومت انگلستان به اردوي جمهوري خواه ایرلند شمالي هفت روز وقت داده است تا تمایل سریع خودرا بخاطر خلع سلاح ابراز دارد.

پیترمندرسون مسئول امور اداري ایرلند شمالي اظهار داشته است اگر طي این مدت نشانه سریع درمورد موافقت سازمان مذکور به خلع سلاح خود تبارز نگردد ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د افغانستان لپاره دملگرو ملتونو د نوی استازی دبریالیتوب اساسی رمز

نړیوالو خبری سرچینو خبر ورکړیدي چی دافغانستان لپاره دملگرو ملتونو دسرمنشی کوفی عنان نوی ټاکل شوی ځانگړی استازی ښاغلی فرانسیس ویندرل خپلو سوله نیزو هڅوته متی رابډوهلی دی اود سیمی خواته یی خپل سفر پیل کړیدی.

ښاغلی فرانسیس ویندرل چی غواړی افغانستان ته دسولی دراوستلو کارپیل کړی خپل کار یی له شپږ جمع دوه هیوادونو سره د مذاکری او خبرو اترو په لړ کی له پاکستان څخه پیل کړ او بیا به په همدی ترتیب دافغانستان له ټولو شپږ وگاونډیو هیوادونو سره وویني.

موږ په داسی حال کی چی دملگرو ملتونو له خوا افغانستان ته دفرانسیس ۲ مخ

تماس های اتحادیه اروپایی و امریکا با اطریش محدود گردید

ایالات متحده امریکا و اتحادیه اروپائي به تعقیب شمولیت حزب آزادي درحکومت ائتلافي جدید اطریش تماسها بادولت مذکور را محدود اعلام داشته است .

مادلین البرایت وزیر خارجه ایالات متحده امریکامیگوید: هیچ حکومت اروپائي نباید براي حزبیکه خود را از خشونتها بدور نیمخواند تماسهاي عادي داشته باشد.

کشور پرتگال میگوید تعزیرات اتحادیه اروپائي علیه کشور اطریش تازماني به حال خود باقي خواهد بود که حکومت ائتلافي اطریش حزب آزادي مذکور را در عمل دست برداشته باشد.

رئیس جمهور اطریش از جامعه بین المللي تقاضا کرده است که به حکومت جدید کشورش فرصت دهند تا بر نامه هاي روي دست داشته در عرصه دموکراسي را در جامعه عملي نماید.

پولیس چین یك اجتماع مذهبي را در هم شکستند

پولیس چین اولین جلسه وسیع اجتماع کننده گان را در سال نو مسیحي در میدان معروف تیانامن پیکنگ درهم شکست .این جلسه از طرف اعضاي گروه مذهبي فالان گانگ ترتیب یافته بود. شاهدان عیني میگویند: ده ها تن از اجتماع کننده گان سعي کردند بیرقهایي را در نزدیکي میدان عمده تیانامن برافرازند اما افراد پولیس که لباسهاي غیر رسمي به تن داشتند براي باز داشت نمودن اجتماع کننده گان عمل نمود.مأمورین پولیس تعدادي ازمظاهره کننده گان را لت و کوب کرده و حدود پنجاه تن آنها را با استفاده از بسها ودیگر وسایط بازداشت کردند.

ونزویلا از ایالت متحده امریکا شدیداً انتقاد نمود

حکومت ونزویلا از ایالت متحده امریکا بخاطر دخالت در امور داخلي دیگر کشور هاشدیداً انتقاد بعمل آورده است .

وزیر امور خارجه ونزویلا دیروز تاکید کرد که دولت ایالات متحده امریکا باید بداند که نمیتواند ونزویلا را تحت فشار قرار داده و خواسته هاي خودرا به آنکشور قبول نماید.

وي در پاسخ به اظهارات مسئوول وزارت خارجه امریکا در امور امریکاي جنوبي که گفته حکومت ونزویلا ضعیف گردیده است گفت اینگونه مواضع بسیار تهدید آمیز وغیر دوستانه است.

هفته گذشته رئیس جمهور ونزویلا از اصلاحات اقتصادي در کشورش گزارش داده و از دخالت صریح ایالات متحده امریکا در امور داخلي دیگر کشور ها یاد آوري کرد.

وي همچنان از امریکا بخاطر استفاده از حریم فضائي ونزویلا درمبارزه علیه گویا قاچاق مواد مخدر شدیداً انتقاد بعمل آورد.

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې

مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»

مرستیال : غلام محمد «فاروق»

دیوي گڼې بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری

پست بکس : (٤٧۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱

جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز

چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالی پاتی برخه

ویندرل تاکتی ته هرکلی وایو او په دی لوی مسئوولیت کی ورته بریالیتوب غواړو له فرصت څخه په استفادی څنو هغو فکتوررونو ته اشاره لازمه بولو چی ښاغلی فرانسیس ویندل دخپل عملی کار له پیل څخه دمخه باید پری فکر وکړی .

په دی کی شک نشته دی چی ښاغلی فرانسیس ویندرل په داسی وخت کی دافغانستان لپاره تاکل کیږی چی افغانان له ډیرو سختو ستونزو سره مخ دی ، هر ډول سیاسی ، اقتصادی او ټولنیزو ستونزو دافغانانو په کور برغل راوړی دی . نړیوالی ټولنی او ملگرو ملتونو دافغانانو په حقه حقوقو تیری کړی او غصب کړی یی دی . نو ویلی شو چی فرانسیس ویندرل په مخ کی ډیری ستونزی او مسئولیتونه لری چی ښایی دملگرو ملتو سرمنشی هم همدی د ستونزو د حل دلاری دموندلو په غرض ټاکلی وی نو که ښاغلی ویندرل په ریښتیا سره هم غواړی چی دافغانانو ستونزی حل کړی ، دافغانستان کړ کیچنی سیاسی فضا ته دحل لارو مومی او په افغانستان کی جگړه پای ته ورسیږی نو دی باید په دی فکر وکړی چی دده سلف اخضر براهیمی ولی ناکامه شو . دی باید دخپل کار بریالیتوب ته دیو راز په توگه هغه عوامل اولا ملونه وپیژنی چی اخضر براهیمی یی له امله خپله پروسه په تپه ودروله یا دده پروسه په تپه ودرول شوه . که سری حقیقت ووایی نو داخضر براهیمی هڅو ته لا له پیل څخه دبریالیتوب هیله نه کیده اولا مل یی هم همداو چی ده واقعیتونه او دستونزو اساسی عوامل تشخیص نشو کړای ، خپل ډیر وخت یی بی ځایه ولگاوه په دی ډول چی کله به یو براعظم ته لاړ او کله بل ته ، کله به یی له چا سره خبری کولی او کله له چا سره چی هیڅ نتیجه به هم تری ترلاسه نه شوه او نه تری دکومی گټی هیله کیدلی شوه .

نو ښاغلی ویندرل ته په کار ده چی لومړی دافغانانو ستونزی او دهغی عوامل درک کړی ، دی باید ځان پوه کړی چی افغانانو ته دا د جگړی اور چا بل کړیدی ؟ دافغانستان دمسلمان ولس مخالفین چا په غیږ کی نیولی دی ؟ له هغوی سره دوسلو ، پیسو او لوژیستکی موادو مرسته څوک کوی ؟ . دی باید په دی پوه شی چی ولس د چا ترڅنگ ولاړ دی ؟ چا ولس ته نجات ورکړ ؟ دی باید ددی جرئت او صلاحیت ولری چی هغه څهری چی افغانانو ته یی اوربل کړیدی ، رسوا او اعلان کړی او ملگری ملتونه اړ باسی چی دهغوی مخه ونیسی . ښاغلی ویندرل باید داخضر براهیمی په څیر شتل دډیپلوماسی او دمنډورامنډو او کشنو راکشنو سیاست پریږدی باید له هغه چا سره وگوری چی دستونزو حل ور پوری مربوط دی او دقضیی طرف بلل کیږی داسی نه چی په اروپا ، امریکا او ... کی په داسی چاپسی وگرځی چی دهیڅ درد درمل هم نه وی حتی د درمل په ځای درد ونه زیږوی . که ښاغلی ویندرل په ریښتیا هم دافغان لانجی حل غواړی نو باید استراحت طلبه نه وی او همیش باید په صحنه کی حاضر وی دجگړی له دواړو لوریو سره باید په تماس کی وی . هرڅه له نږدی وڅاری موجود واقعیتونه او ریښتونی ستونزی باید په نښه کړی اوس چی دهیواد په سلو کی له نوی څخه ډیره برخه کی امنیت تأمین دی نو باید کار دننه په هیواد کی وکړی . خپل مرکزی دفتر باید دهیواد پلازمینی دکابل ښار ته راولیږدوی . که ویندرل هم ملامت او ناملامت ، ظالم او مظلوم ، برغلگر او مدافع دواړو ته په یوه سترگه گوری او یا دولس دریښتونو استازو ، خدمتگارانو او د ولس ددښمنانو ترمنځ توپیر نه کوی او یایی نه شی کولی نو بیا به دده برخلیک هم داخضر براهیمی په څیر ناکام برخلیک وی . دی باید دا جرئت او زړورتیا چی دده درسمی دندی ترڅنگه دده اخلاقی دنده هم ده ولری چی نړیوالی ټولنی ته هغه فکتوررونه مشخص کړی او هغه حلقی او هیوادونه وروښیی چی دافغانستان په کورنیو چارو کی لاسوهنه کوی او له ملگرو ملتونو څخه دا تضمین ترلاسه کړی چی ددی لاسوهنی د ادامی په صورت کی له هغوی سره نظامی برخورد او سیاسی او دیپلوماتیک مقاطعه وکړی .

ویندرل باید دافغانانو په حال افسوس ښکاره کړی او ملگرو ملتونو ته باید دافغانانو داعرض او شکایت ورورسوی چی ولی یی ددوی چوکی ددوی دښمنانو ، څوکسو داړه مارانو او داسی مفسدینو ته سپارلی ده چی ولس یی دحماقت ، ظلم ، استبداد او شرارت داور په لمبو کی هم همدا اوس سوځی داسی ډله چی په ټول هیواد کی دناستی ځای حتی یو پستی ادرس هم نلری . او په مقابل کی یی ټول ملت او داسی امارت له پامه غورځولی دی او تریکتی ورسره کوی چی دهمدی ملت له متن څخه راټوکید همدی ملت یی پالنه وکړه . همدی ملت راوومست او دملیشو په شړ لوسره یی دهیواد دپلازمینی په گډون دهیواد برخلیک په لاس کی ورکړ . ښاغلی ویندرل باید ملگرو ملتونو ته دافغانانو دا پیغام هم ورورسوی چی له دی جگړه ځپلی ولس سره چی اقتصادی چینی یی ټولی وچی دی ، وطن یی روسانو او کورنیو ملیشو په کنډوالو بدل کړیدی . په هر لوېشت کی ورته میتونه غوړیدلی دی اقتصادی مرسته او لاسنیوی په کاردی که اقتصادی بندیزونه او له لاسه دیوی مړی ډوډی ترورل .

هیله ده چی ښاغلی ویندرل په خپل دی ماموریت کی بریالی شی ، حق او واقعیت وپیژنی او نورو ته یی هم ورو پیژنی او خدای (ج) دی ورته په حقایقو او واقعیتونو داعتراف جرئت هم ور په برخه کړی .

اسلام دلویدیځ په خپرونو کی

«اسلامی بنسټ پالنه دگردی نړی سلامتیا او آرامی ته لویه خطره ده »

« اسلامی بنسټ پالنه لویدیزو ټولنو ته دومره خطرناکه ده لکه څنگه چی یو وخت نازی غورځنگ خطرناک و »

« دلویدیز دپاره نه یوازی بنسټ پالنه داندیښنی وړ ده ، په نوم اسلام هم ستونزی راته جوړ ولای شی ، کوم چی یو ځانگړی تهذیب او منونکی یی دیوه پرمختللی ثقافت په گومان اخته دی »

« که تور غنم رنگی پاستی ، انگریزی مونه وی زده او دنصرانیت گروهه نه لرئ ، بیا هم بریتانیوی کیدای شی ، خو که غواړئ چی داهیواد د به یوځت دمسلمان لړ کی په واک کی وی ، نو په دی خبره زمونږ په زړه کی ویره او غوسه څکه را پیدا کیږی چی داخاوره په اصل کی دسپین پوستی عیسایی ملک دی »

پورتنی خبری هغه سریزی او سرټکی دی چی هره ورځ دلویدیځ والو ورځپاڼو پرلومړیو مخونو د زرگونو په شمیره چاپیږی او خپریږی نو هغه وگړی چی پرله پسی د

فــــاروق

نوموړو ورځپاڼو لوستونکی وی ، خامخا پوهیږی چی په دغو پاڼو کی داسلام او مسلمانانو په هکله خبرونه په یوه داسی بڼه کښل کیږی او دومره پاملرنه ورته کیږی چی خامخا د لوستونکی په ذهن کی منفی اغیزی پیدا کړی ، دټولو اسلامی هیوادونو ، اسلامی ټولنو او په نړی کی خورو ورو مسلمانانو رپوټونه په ډیر مهارت سره دفطرت نه خلاف په یو ځانگړی ډول مسخ کول ، اوس هلته یو مهم فن گرځیدلی دی ، دورځپاڼو خبرونه ، کارتونونه ، سرټکی او تبصری ټول له همدغسی زهر وډک دی او خبره تردی ځایه رسیدلی ده چی په خپله په دوی کی ځینی ټولنی دا اندیښنه کوی چی د مطبوعاتو روان چلند به دمسلمانانو په زړه کی دلویدیزو هیوادونو کرکه ډیره زیاته کړی ، چی کیدای شی یو وخت دسخت تاوتریخوالی په بڼه را څرگنده او لویدیزو ټولنو ته لویه ستونزه جوړه کړی ، لکه چی د برتانیی سوشل ریسرچ اداری یو رپوټ خپور کړی او هغه ټکی یی بیل بیل په گوته کړی کوم چی لویدیزی خپرونی یی داسلام په هکله دلوستونکو په خیال کی انځور ولای شی ، او هغه دادی :

*** اسلام یو داسی وچ مذهب دی چی د نویو پیښو اوحقیقتونو سره هیڅ بلدتیانه لری.**

*** اسلام دلویدیز په پرتله یوه نیمگړی نظر یه ده چی وحشیانه ، بی تهذیبه او له اټکله ډیره لری ده .**

*** اسلام یو تیری کوونکی مذهب دی چی تر هه گری خوښوی او دخپلو انگیرنو په ورتپلو کی له زوره کار اخلی.**

*** اسلام هسی یوه تشه پوچه ناره ده چی کله کله دسیاسی او نظامی گټودلاس ته راوړو دپاره پورته کیږی.**

*** په لویدیز باندی داسلام نیو کی بیخی بی معنی اوبی وزنه دی.**

*** دا چی اسلام یوه په څټ بیوونکی او اوریکی نظریه ده نو منونکی یی له ټولنی بهر شړل او بی دخله کول یو روا او ضروری عمل دی.**

هسی خو په سر کاری سطح ټل ددی خبری پخلی کیږی چی دحکومت په وراندی مذهبی اختلاف هیڅ کوم ارزښت نه لری ، خو په حقیقت کی دلویدیز و ټولنو اوسیدونکی مسلمانان ښه پوهیږی چی له یوی خوا په هغه ټولنه کی هر اړخیزه برخه اخیستل او له بلی خوا په خپل دین ، عقیده او د خپل اسلامی ثقافت سره سم ژوندکول څومره گران دی ؟ دلویدیځ په اند لویدیزو گړی مهذب ، مترقی ، زیاراېستونکی ، روڼ فکره او لوړخیاله خلک دی خو ددی پرخلاف مسلمانان اوړیکی ، بی انډوله ، لټ او درغل ولس دی چی هیڅکله بی دوسلی نه مفکوره نه شی بیلیدای ، او همیشه د دلیل او عقل پرخلاف دریځ نیسی دلویدیځ لوړ رتبه فوځی مشران بیا په دی هکله له هر چا وراندی دورمی ، لکه چی دناټو یو مرستیال «ولی کلیس » دخپلو مخورو ملگرو په یوه غونډه کی په ډاگه وویل چی : اسلامی بنسټ پالنه هم دکمونیزم نه کمه نه ده او مونږ ته ښایی چی ددی خطر سیی اټکل وکړو ، ځکه چی دا نظریه د ترهه گری او مذهبی لیونتوب څرگندویه ده » .

دا ، او دی ته ورته نوری ډیری کیسی ، افسانی ، کارټونونه او راپور تاژونه چی ټل دلویدیزو ورځپاڼو په لومړیو مخونو کی ځای لری او دسل گونو زرو لوستونکوی سره رازونه وایی ، ټول ددی خبری ژوندی ثبوتونه دی چی ښایی مسلمانان تری ناخبره ونه اوسی .

دیدار خبرنگاران روسی از افغانستان

در هفته گذشته گروهی از خبرنگاران رسانه هاي خبري روسیه از کابل دیدن نمودند این گروپ پنج نفري را آقاي راز-محمد بیردیف کارمند عالیرتبه، وزارت امور خارجه ترکمنستان همراهي میکرد سفر این ژورنالیستان به افغانستان نیز به تقاضاي وزارت امور خارجه، ترکمنستان صورت گرفت .

از چندي به اینطرف که امارت اسلامي افغانستان دولت آزاد و مستقل چچنیا را به رسیمت شناخت و روابط میان دوکشور در **سطح سفارت بر قرار گردید ، رسانه هاي گروهي** در روسیه نه تنها در مورد امارت اسلامي بلکه درمورد کشورهاي همسایه یی که با امارت اسلامي افغانستان رابطه ، نزدیك و دوستانه دارند نیز تبلیغات منفي را براه انداختند که از آن جمله **لحن غیر** دوستانه، آنان در مورد جمهوري ترکمنستان قابل یاد آوریست . به همین جهت دولت ترکمنستان از یك گروپ خبرنگاران روسي خواست تا غرض روشن شدن حقایق اوضاع افغانستان به کشور ما مسافرت نمایند. این خبرنگاران پس از دیدار از ولایات هرات و قندهار به کابل آمدند و پس از تهیه گزارشهایي از پایتخت کشور ما عازم مزار-شریف شدند.

در کابل مولوي وکیل احمد متوکل وزیر امور خارجه امارت اسلامي افغانستان در یك نشست طولاني که تا نیمه هاي شب دوام نمود به سؤالات خبرنگاران مذکور پاسخ گفت : مخصوصاً هیئت مذکور علاقمند بود تا در مورد دلائل امارت اسلامي افغانستان براي به رسمیت شناختن جمهوري چچنیا اطلاعات کافي بدست آورد. محترم متوکل به ایشان خاطر نشان ساختند که امارت اسلامي افغانستان اولین کشوري نیست که جمهوري چیچنیا را به رسمیت شناخته است درین رابطه فدراسیون روسیه از ما پیشقدم بوده و ما سند این برسمیت شناختن از طرف فدراسیون روسیه را در اختیار داریم .

محترم متوکل درمورد وضع داخلي کشور ما نیز به تفصیل سخن گفتند و علاقمندي امارت اسلامي افغانستان را درجهت داشتن رابطه دوستانه با همه کشور ها بخصوص کشور هاي همسایه ابراز نموده و بار دیگر بر اصل عدم مداخله در امور داخلي کشور هاي دیگر تاکید ورزیدند.

شب بعد دیداري بین بعضي از مسئولین وزارت امور خارجه در سطح پائینتر با این هیئت صورت گرفت که بازهم محراق توجه مسئله داغ روز در روسیه یعني مسئله چچنیا بود.

جانب افغاني به ژورنالیست هاي روسي این نکته راخاطر نشان ساخت که رابطه مجاهدین چیچنیا با افغانها کار تازه یی نیست بلکه این رابطه به سالها قبل از تأسیس تحریك اسلامي طالبان بر میگردد قبل از جنگ اول چچنیا با روسیه رابطه میان شخص جوهر دودایف و رهبران تنظیم هاي جهادي آنوقت موجود بود، اگر فدراسیون روسیه ادعا دارد که چیچنیا در آن زمان بخشي از این فدراسیون بوده است بازهم داشتن چنین تماس هاي غیر رسمي با افغانها یا سایر کشور هاي اسلامي حق مردم و زمامداران چیچن بوده است چه رسد به مرحله، بعداز جنگ (۱۹۹٤-۱۹۹٦) که روسیه با چیچنیا روابط دوجانبه و مساویانه بر قرار نمود وبه این ترتیب آزادي این کشور را به رسمیت شناخت .

اگر امروز هم فدراسیون روسیه چیچنیا را بخشي از این فدراسیون مي داند حمله این کشور به خاك چیچین مغایر با قانون اساسي فدراسیون روسیه است زیرا قانون اساسي به صراحت مي گوید که فدراسیون روسیه نمي تواند علیه بخشي از این فدراسیون داخل جنگ گردد . اینکه روسها به چیچنیا حمله نظامي نموده و به کشتارمردم و ویراني شهرها دست زده اند دو امکان وجود دارد که در هر دو صورت تقصیر متوجه روسیه است :

۱- اگر چیچنیا بخشي از فدراسیون روسیه است حمله نظامي بهر بهانه یی مغایر با قانون اساسي فدراسیون بوده و باید روسیه دست به این کار نمي زد. دستگیري کسانیکه بعنوان (تروریست ها در چیچن) قلمداد شدند کار نیرو هاي وزارت داخله و پولیس بود نه کار نیروهاي وزارت دفاع چنانچه قانون اساسي تصریح مي کند.

۲- بکار گیري نیروهاي وزارت دفاع روسیه علیه جمهوري چیچنیا نشان میدهد که جنگ علیه کشوری در خارج از فدراسیون روسیه جریان دارد. بنابر این خود همین جنگ از طرف روسیه به معني برسمیت شناختن استقلال چیچنیاست . زیرا قانون اساسي فدراسیون روسیه جنگ را فقط با کشور هاي خارج از فدراسیون مجاز مي شمارد. هیئت ژورنالیست هاي روسي این دلائل را کاملاً موجه ومستند دانستند و گفتند که در داخل

ابو جاهد

روسیه هم مخالفین جنگ مي گویند که روسیه با حمله با چیچنیا در حقیقت قانون اساسي را زیر پا کرده است .

در اینجا از هیئت روسي سوال شد که آیا در داخل روسیه مردم باور مي کنند که چیچن ها در انفجار هاي ماسکو و مسن پطرز بورگ در سال گذشته واقعاً دست داشته اند ویا اینکه آنها هم به این نظر اند که این انفجار ها از طرف عناصري صورت گرفت که مي-خواستند فدراسیون روسیه را در گیر جنگ دیگري شبیه جنگ با افغانستان سازند وبه این ترتیب فدراسیون روسیه را نیز از بین ببرند و خیال غرب را کاملاً از طرف روسیه بعنوان یك قدرت رسمي راحت سازند ؟

هیئت روسي این امکان را نه تنها رد نکرد بلکه یك عامل دیگر رانیز درین جنگ مؤثر دانست آقاي (آرکیدي دو بونوف) یکي از اعضاي هیئت گفت که در نیروهاي مسلح روسیه تند رواني وجود دارند که مي-خواستند انتقام شکست جنگ گذشته را از تندروان چچن بگیرند. وي همچنان گفت: که اسناد وشواهدي که نشان دهد واقعاً چچنیا در انفجار هاي داخل روسیه دست داشته است ضعیف بود و ما روزنامه نگاران را قانع نمي-سازد.

آقاي دوبونوف گفت که در روسیه مردم گمان مي کنند که امارت اسلامي افغانستان (طالبان) با جناحهاي تندرو در چچنیا رابطه دارند که منظور وي بوضوح شامیل با سایوف بود. در جواب گفته شد که مردم افغانستان و امارت اسلامي از داعیه برحق مردم مسلمان چیچن حمایت مي کند. ما مي خواهیم کشتارمردم غیر نظامي به وسیله سربازان روسي خاتمه یابد. روسیه با حمله به چچنیا مرز میان تندروي و میانه روي راخودش ازمیان برد بعداز این حمله دیگر دشوار است که روسها میان میانه رو و تندرو فرق قائل شوند. تجربه نشان داده که فشار وشدت عمل نه تنها وسیله مؤثر براي سرکوب تندروي نیست بلکه برعکس جناحهاي تندرو را تقویت مي نماید.

با حمله روسها عناصري که روسها آنانرا میانه رو تشخیص داده بودند درکنار آنانیکه تندرو بشمار مي آمد یکجا برضد تجاوز روسها در گیر جنگ شدند و هر قدر که این جنگ ادامه یابد امکانات آشتي و تفاهم ضعیفترخواهد شد.

هیئت روسي درمورد اقدامات چچنیا درجمهوري داغستان قبل از جنگ اخیر و مداخلات آنها در آن جمهوري جویاي موقف امارت-اسلامي افغانستان بود در جواب گفته شد که تا آنجاکه ما اطلاع داریم دولت چچنیا درین ماجرا دست نداشت وقایع داغستان هرگز توجیه کننده، خشونت علیه مردم بیدفاع غیر نظامي در چچنیا نیست .

هیئت روسي درین مذاکرات نشان داد که آنچه که تاکنون درمورد امارت اسلامي و جریانات داخل افغانستان از طریق رسانه هاي خبري در روسیه به نشر رسیده نزدیك به حقیقت نبوده است مردم ما تصور دیگري از طالبان در ذهن دارند که ناشي از تبلیغات مخالفین شماست . ما امید واریم که با نشر گزارشات این تیم خبرنگاران که خود مستقیماً جریانات اوضاع را در افغانستان دیده اند این تصور در روسیه تغییر کند.

این خبرنگاران اظهار داشتند که فدراسیون روسیه از امنیت مرز هاي جنوبي آسیاي میانه مطمئن نیست و ثبات درین مرز ها برایش بسیار اهمیت دارد. درجواب گفته شد که هیئت شما بالاي بیردیف به افغانستان آمده است که وي ازمأمورین وزارت امور خارجه ترکمنستان است ما عملاً مي بینیم که ترکمنستان که با مامرز مشترك دارد از ثبات و امنیت در مرز خویش با ما مطمئن است . پس چه دلیلي وجوددارد که فدراسیون روسیه هزاران کیلو متر دورتر از این مرز ها چنین تشویش را داشته باشد ؟ آیا این اظهارات مقامات فدراسیون روسیه فقط بهانه براي حظور نظامي درین مرز ها نیست ؟

خبر نگاران تأیید نمودند که مقامات جمهوري ترکمنستان به آنها گفته اند که در طول چندین سال که امارت اسلامي با آنها مرز مشترك و رابطه دارد تاکنون هیچ واقعه، ناخوشگوار در مرز رخ نداده و مرز ایشان با افغانستان مرز صلح و دوستي بوده است .

سخنی در حاشیهء مصوبهء پارلمان مصر

غفور احمد «غزنوي»

از آنجائیکه ارجحیت ، امتیازات وبرتري هایي قواعد حقوقي دين مبين اسلام نسبت به قواعد خود ساخته دیگر ادیان غیر سماوي که مملو از ضعف و نقائص بوده بر هیچ فردي از افراد جوامع بشري اعم از پیروان ادیان سماوي و غیر سماوي خفي وپوشیده باقي نبوده وهر عاقلي به این سخن پي برده که بین قواعد و ضوابط موضوعهء خالق بشر که پر از منفعتها و حکمتهایي متنوع و عاري از هر گونه نقصانات بوده وبین قواعد موضوعهء مخلوق که مملو از علل ونقائص بي شمارمیباشد چه مقدار تفاوت عظیمي نهفته است . ونیز هر صاحب خردو بصیرت به این حقیقت سر تسلیم فرو برده که اوامر و ارشادات ذات حکیم سراپا حکمت و منفعت است و همه یگانه راه سالم پیشرفت و ترقي مثبت . پس لازم مي افتد تاهمه تن به حق تسلیم نموده متابعت و پیروي و فرامین خالق حکیم و ذات اقدس یکتا را پیشهء خود ساخته و در صحنهء عمل پیاده نماییم. ولي نقطهء شگفت انگیز وقتي توجه مایان را بخود جلب مینماید که برخي از پیروان همین دین برحق سماوي باکمال تأسف ارشادات و قوانین حقهء اسلام را کنار گذاشته وبدون کدام دلیل و یا سندي دست به بد عتهایي شگرف و تعجب آور میزنند. مقصد بنده از این مقدمهء مختصر اشاره به قضیهء طلاق زنان در مصر است که در این اواخر از طرف پارلمان آنکشور پاس گردیده ولي قبل از آنکه دلائل بطلان این اقدام را پي گیریم چند سخني درمورد تاریخ و سیرقانون گذاري کشور مصر را خدمت خوانند گان گرامي پیشکش مینماییم .

کشور مصر در قاره افریقا موقعیت داشته و (۱۰۰۱٤٤۹) کیلو مترمربع مساحت دارد. نفوس آن در سال ۱۹۹۳ م به ٦۰.۳ میلیون میرسید. در سال ۱۹٤٥م عضویت خویش را در سازمان ملل متحد حاصل نمود. گفته میشود که در ابتدا از جمله نفوس آن تقریباً بیست میلیون نفوس آن شافعي مذهب بودند و این امر طبعي به نظر میرسد چه امام شافعي (رح) مذهب جدید خویش را در مصر انتشار داده است . قبل از دوران حکومت اسماعیل بر مصر که از سال ۹۰۹ الي سال ۱۲٦۱ طول کشید مذهب شافعي(رح) مذهب قضا در مصر بود و سپس در زمان حکومت ایوبیان مجدداً مذهب قضا به شمارمیرفت. وهم به نظر برخي دانشمندان بنا بر علل سیاسي مجلة الاحکام عدلیه در آنجا مورد عمل قرار نگرفت و استقلال قضائي و اداري مصر در زمان اسمعیل پادشاه طي فرماني در سال ۱۲۹۱ هـ اعلان شد ، وبعداً در سال ۱۸۷٥ براي رسیدگي به حقوق اتباع خارجي قانون مدني و داد گاه هایي مختلط در مصر بوجود آمد و صلاحیت داد گاه هاي شرعي فقط به احوال شخصیه منحصر ماند. بعداز گذشت چند سال جنبش اصلاحي تازه بنام نهضت سلفیه یا به اصطلاح دیگر مذهب سلف صالح به رهبري سید جمال الدین افغاني (۱۸۳۹-۱۸۹۷) وشاگردانش استاد امام شیخ محمد عبده (۱۸٤۹-۱۹۰٥) مفتي مصر بوجود آمد، مبادي این جنبش به وسیله کتب ، سخنرانیها ومقالات نشر گردید ، که مهمترین آن ها مجلة المنار بود که در سال ۱۸۹۷ در قاهره (پایتخت مصر) تأسیس شد. اهداف این مذهب (سلفیه) رجوع به قرآن وسنت ومبارزه با خرافات و بدعت وهر گونه جمود وتقلید کور کورانه بود. ولي بعداز چندي قانون مدني بر مبناي مذهب حنفي در ٦٤۷ ماده تدوین شد و مذهب حنفي نسبت بر سائر مذاهب ارجحیت یافت ، و قانون مدني اخیر مصر مصوب سال ۱۹۳۸ از سه منبع الهام گرفته است .

۱- حقوق تطبیقي .

۲- اجتهادات قضائي مصر .

۳- شریعت اسلام .

پس اگر در اینجا این مسئله را ازنظر شریعت ویا اجتهادات قضائي داخل چوکات شریعت بررسي نمائیم هیچ سندي ویا دلیلي اعم از نقلي ویا عقلي را دریافت کرده نمیتوانیم که دال برحق زن در مسئله ولایت طلاق باشد حتي اینکه هیچ قولي به نظر نمیرسد که در آن شائبه یي از این قضیه موجود شود. ولي در مقابل دلائل ثبوت حق ولایت طلاق اعم از نقلي و عقلي براي مردان موجود و هویداست. مثلاً : ازجمله ثبوت این ولایت را در آیات متبرکه قرآني که چنین ارشاد گردید : ترجمه «وچون طلاق نمودید زنان را یعني اراده» آنرا کردید پس طلاق نمائید آنها را براي عدت ایشان» (سورة الطلاق) آیت دیگر ترجمه : « نیست هیچ گناهي بر شما اگر طلاق نمایید زنان خویش را قبل از تماس یعني جماع به آنها» (سوره بقرة پاره دوم) از آیات فوق به صراحت این مسئله روشن میگردد که خطاب براي مردانست نه زنان همچنان در احادیث نبوي (ص) چون : الطلاق بالرجال والعدة با النسآء . : ترجمه معتبر کرده میشود ولایت طلاق از طرف مردان (بنابر توجیه اصح) و معتبر کرده میشود عدت از سوي زنان مثال این دال بر مدعا است . بلي اینکه طلاق در اسلام مشروع گردیده بخاطر رفع تباین اخلاقي بین زوجین که این نکته را منحیث فلسفهء طلاق نیز اتخاذ کرده متیوانیم به این معني نبوده که گویا در حق زنان کمي ویا بي توجهي بي صورت گرفته بلکه براي زنان نیز در شریعت این صلاحیت اعطاء گردیده که چون در شوهر خود عمل غیر شرعي و غیر قابل تحمل دریابد ویا حقوق مثبتهء وي را چنانچه لازم است اعطاء نتواند به محاکم شرعي رجوع کرده از شوهر خود طالب دلیل مقنع ویا تفریق گردد که درینصورت زوج مکلف است یکي از امرین را قبول واختیار نماید، ورنه محکمه شرعي صلاحیت دارد جبراً بالاي زوج تحمیل نماید. پس ما به مقامات حکومت جمهوري مصر که این اقدام را بخاطر شمولیت در دیموکراسي غربي وبه امید اینکه قدمي در پیشرفت به سوي دیموکراسي وتقلید کورکورانه انجام نموده این فرموده نبي کریم (ص) را کافي میدانیم که چنین ارشاد فرموده اند : ترجمه : کسي که چیزي نوي از سوي خود در دین و اسلام ایجاد نماید پس آن مردود است .

دگروزنی جګړه چا وګټله؟

غازي خیل

دتیری سه شنبی په ورځ دچیچن مجاهدینو اعلان وکړ چی دوی د ګروزنی له ښار څخه وتلی او په خپلو غرنیو مرکزونو کی ځای په ځای شوی په همدغه ورځ په چیچن کی د روسی پرغلګر پوځ لوی قوماندان چی خپل جګړه ایز ځواک او دخپل وینی زبیښونکی لښکر ګوډمات موړال ور معلوم و دا جرأت ونکړ تر څو د نوموړی خبر په تائید سره ځان د ګروزنی د نیولو «فاتح» وګڼی د ځکه چی هغه ته دګروزنی نیول یو ناشونی کا ر ښکاریده ، او په دی جګړه کی بی دخپل لښکر بری یو خیال ګاڼه او فقط یوه ورځ مخکی هم ددوی پوځی مشرانو داحقیقت منلی ور چی دګروزنی نیول دوی ته ناشونی ښویدی.

په داسی حال کی چی روسانو د ګروزنی له نیولو نه لاس پریمینځلی او چیچنی مجاهدینو دښار دساتنی ادعا دخپلو سرونو په نذرانی سره پوره رښتیا کړی وه ، په ناڅاپی توګه ګروزنی ولی پریښودل شو ؟ او دا مسئله چی دګروزنی جګړه چاو ګټله هغه پوښتنی دی چی ښایی څه فکر پری وشی او دا خبره څرګنده شی چی آیا چیچین مجاهدین په رښتیا دبی وسی له امله له ګروزنی څخه ووتل او روسی پوځونه په رښتیا دومره غښتلی و چی په زور ګروژنی ته ننوځی؟

نړیوال خبر دی چی په چیچین دروسانو وروستی حملی پوره څلور میاشتی دوام وموند ، په نوموړی برید کی څه دپاسه نوی زره روسی پوځیانو برخه درلوده ، په نوموړی تیری کی روسی پوځونو له خپل وروستنی ځواک او وسلو څخه کار واخیست حتی په غرنیو سمیو کی یی کیمیاوی وسلی هم وکارولی کوماندو ګانو یی څو څو ځلی درنی حملی وکړی ، تر دری زرو زیاتو ټانګونو او زرهی موټر یی شپه او ورځ ګولی وورولی ، په زرګونو هاوانونو او درنو توپو نویی او رونه بل کړل او په لسها وجټ او جنګی هیلیکوپټرو یی پر چیچین مجاهدینو او بی ګناه ولس بمونه و غورځول . دروسی پوځی سرچینو په قول روسی الوتکو په ورځ کی څه دپاسه ۱۸۰ ځلی پرګروزنی بمباری کړی که نوموړی شمیرنی ته چی کیدای شی روسانو ډیر کم هم ښودلی وی یو محاسبوی نظر وکړو نو جوته کیږی چی روسی الوتکو دمیاشتی ٥٤۰۰ ځلی ا و دخپل تیری په څلورو میاشتو کی یی ۲۱٦۰۰ ځلی پر ګروزنی او شاوخوا سیمو هوایی بریدونه کړی او که دهری الوتنی په ترڅ کی یی کم ترکمه دوه بمونه یا راکټونه پر چیچین غور ځولی وی نو ټول به یی ٤۳۲۰۰ بمونه او راکټونه غورځولی او اوورولی وی او که په اوسط ډول هر بم او راکټ پنځه متره مربع سیمه ویجاړه کړی وی نو د چیچین ۲۱٦۰۰۰ متره مربع سیمه به په کنډواله بدله شوی وی د نوموړی وحشت ترځنګ کیدای شی پوه شو چی روسی ټاګونو ، توپونو ، هاوانونو او نورو درنو او سپکو وسلو به څومره ورانی کړی وی؟ نو په داسی یوه سو ځول شوی سیمه کی آیا د چیچنی مجاهدینو څلور میاشتنی میړنی مقاومت دستاینی او ویاړ وړ نه دی ؟ اوله داسی سیمی څخه وتل چی هلته دروسی وحشیانو له لاسه د ژوند ټولی نښی نښانی او وسایل تباه شوی او ګروزنی د روسی سرچینو په حواله په کنډواله بدله شوی او د ژوند وړ نه ده او دوی مجبور دی ترڅو دچیچین پلازمینه له ګروزنی څخه بل ښار ته ولیږدوی ددی دلیل نه ده چی دمنطق او جګړه ایزی هوښیاری په مقتضی چیچینی مجاهدینو خپل نوموړی مورچل بدل کړی وای او د اوبو د زیرمو ، د خوراکی موادو دموندلو او دټپیانو د درملنی په خاطر بی ګروزنی پریښی وای ؟ دا هغه څه دی چی په ګروزنی کی دمجاهدینو پرماتی نه بلکه په جګړه ایزی هوښیاری دلالت کوی ، همدارنګه داسلامی جګړه ایزو ارشاداتو په رڼا کی هم داخبره څرګنده ده چی د سنګر دبدلولو او له نورو مجاهدینو سره دیو ځآی کیدو په نیت له یوی سیمی څخه په شاتګ ماتی نه بلکه جایز عمل او جنګی تاکتیک دی ، نو چیچینی مجاهدین چی داسلامی اصولو رڼا یی دوجود هره زره ځلولی ده نوموړی لارښوونی ته یی پوره پام دی او د یوی ژغورندویه لارښوونی په توګه یی ګټه ترینه اخیستی او له ګروزنی څخه په شاشوی نه دا چی ماته یی منلی ، که راتلونکو پیښو وښودله چی چیچن مجاهدین د تل لپاره له ګروزنی څخه لاس په سر شوی بیا هغه وخت ویلای شو چی هغوی به ماتی خوړلی وی ، خو په اوسنیو حالاتو کی له شک څخه پرته حکم کیدلای شی چی د ګروزنی جګړه چیچن مجاهدینو ګټلی او وروسته تر هغه چی تر دولس زرو زیات روسی پوځیان یی تارو مار او په سلهاو روسیی ټانګون یی له منځه وړل د ګروزنی کنډوالی یی روسانو ته دهغوی دهدیری لپاره تشه کړه تر څو په تاریخ کی دافغانستان ترڅنګ د ګروزنی ښارهم د روسانو قبرستان وګڼل شی نه دا چی هغوی د ګروزنی «فاتحین» وشمیرل شی ، که څوک دا وایی چی دګروزنی جګړه روسانو ګټلی نو که دګروزنی دساتونکو مجاهدیو له وتلو څخه وروسته ، روسی پوځونو ښار ته د سمدستی ننوتلو جرأت کړی وای او دهغوی ستر قوماندان دګروزنی د نیولو سمدستی ادعا کړی وای بیا به مومنلی وو چی هغوی ګروزنی په زور نیولی او نوموړی جګړه یی ګټلی ، دا چی په خپله د روسی پوځونو لوی قوماندان له ډله ایزو خپرونو څخه دمجاهدینو له لوری دګروزنی دپریښودلو خبر ته دشک په نظر ګوری او داوایی چی تر اوسه لا مقاومت موجود دی په داسی حال کی چی هیڅ مقاومت هم موجود نه و خو دوی دخپل بایللی موړال له کبله ګروزنی ته دننوتلو جرأت نه درلود ، بیا به څنګه ومنل شی چی هغوی ګروزنی «فتحه» کړی! فتحه خو هغه مهال منل کیدای شی چی یو ځواک په نره او په رڼو سترګو دښمن وځغلوی او سیمه یی تر پښو لاندی کړی ، نه دا چی په اصطلاح فاتح پوځ سیمی ته دننوتلو جرأت هم ونلری ... الکساندر پوتین د روسیی کفیل واکمن څو ورځی وړاندی د روسیی له تلویزیون سره دمرکی په ترڅ کی ویلی وو چی یلتسین ترخپلی استعفآ مخکی د وصیت په توګه ماته ویلی چی « پر روسیی پام کوه » نوموړی وصیت ته په پام سره ویلی شو چی دپوتین مشر او استاد بوریس یلتسین دچیچین په جګړه کی دماتی پرمنلو سر بیره حتی دروسیی په پایتخت هم یی باوره وو او خپل خلف ته یی دوصیت په توګه پر روسیی دپام کولو حکم کړی وو دیلتسین دا وصیت ښیی چی روسیه پخپله له ستر خطر او ګواښ سره مخامخ ده دا خو پریږده چی دچیچین جګړه وګټی اویا ګروزنی «فتحه» کړی !! دا چی روسی چارواکی په ګروزنی کی دخپلو ۱٥۰۰۰ عسکرو پریښودل ضروری ګڼی داهم ددی ښودونکی ده چی روسان دګروزنی په نیولو متیقن نه دی هره شیبه هغوی له داسی یوه ستر برید څخه په ویره کی دی چی ۱٥۰۰۰ عسکر به یی ایله دمقابلی توان ولری ، دروسانو پواسطه دګروزنی نیول به هغه مهال یقینی خبره وه چی روسانو دچیچین دمجاهدینو له لوری دګروزنی د پریښودو تر اعلان دمخه اعلان کړی وای چی موږ ګروزنی ونیوله او چیچین مبارزین وتښتیدل دا چی دښار ترتخلیی وروسته هم ښا رته دننوتلو جرأت یه دوی کی نه ونو څنګه به ومنل شی چی هغوی دګروزنی جګړه ګټلی او بل دا چی فاتح باید ترمغلوب دمخه دخپلی فتحی ناری وهلی وای او مات شوی لوری باید تر ډیره سپین سترګی کړی وای او دخپل مقاومت په دوام یی ټینګار کړی وای ، څرنګه چی دګروزنی دتخلیی په مهال د «فاتح» دریځ ټولو واور ید نونه ښایی چی ومنو د ګروزنی جګړه روسانو وګټله !!

پرته له کوم شک څخه دچیچین دمجاهد ملت له ځواکمن ایمان اولوړو ارادو څخه داښکاری چی هغوی به انشأ الله ډیر ژر روسانو ته داسی سبق ورکړی او په داسی غمونو به یی سرکړی چی تیر غمونه ترینه هیر او کنډواله شوی ګروزنی دهغوی دتاریخی هدیری په توګه دتل لپاره همدا شان کنډواله پاتی شی ترڅو دروس او نورو کفری ځواکونو راتلونکو نسلونو ته پر مسلمانانو دتیری د پایلی ژوندی نښی نښانی پاتی وی.

ذهني ازموینه

محترمو لوستونکو :

بیا هم زمونږ د تیرې ګڼې دریمې او څلورمې پوښتنې ته زمونږ همیشنی لوستونکی محترم ورور عبدالباري ځوابونه ویلي چې د ټولو پوښتنو ځوابونه په لاندې توګه توضیح کیږي.

۱- په مسجد اقصی کې یو لمونځ په عادي جوماتونو کې له پنځه سوه لمونځو سره برابر دی . ۲- امیه بن خلف دبدر په غزا کې د حضرت بلال (رض) لخوا ووژل شو. ۳- د الرحمن په سورت کې ۳۱ ځله فبای الا ء ... راغلی دی. ٤- د ماسپښین په لمانځه کې مسلمانانو له مسجد اقصی نه د کعبې شریفې په لورې مخ کړ . ٥- آخیرنی صحابي چه په مدینه منوره کې وفات شو سعد بن سعد الانصاري (رض) و.

او داهم ددې ګڼې پوښتنې :

۱- حجة الوداع څه وخت تر سره شو؟

۲- دلومړي ځل لپاره چا په مدینه منوره کې امامت وکړ ؟

۳- هغه کومه ښځه وه چې له امیر المؤمنین خدیجة الکبری نه وروسته مسلمانه شوه ؟

٤- دفاتحې دسورت توري څو دي. ؟

٥- د« عقیدة الطحاویه » مولف څوک دی؟

ستاسې دځوابونو په هیله.

محترم معاون ریاست الوزرا لطی ملاقاتی ...

.كاري ودليري اجراء مينمايند به محترم معاون رئيس الوزرأ ارائه نموده افزود : مجاهدين اين خطوط در هر عمل و حركت شان مطابق به احكام شريعت غراي محمدي (ص) بصورت صادقانه در خدمت مردم قرار دارند.

سپس محترم مولوي عبدالكبير معاون-رئيس الوزرا ضمن صحبت شان فرمودند : دفاع از ارزشهاي نظام اسلامي مسئووليت هرهموطن مسلمان ماست ما افتخار داريم كه تحت لواي با عظمت وپرابهت اسلامي زنده-.گي مينمائيم.

مجاهدين اردوي اسلامي وظيفه دارند كه در پرتو ارشادات دين مبين اسلام درخدمت مردم و در دفاع از تماميت ارضي كشور مان قرار داشته باشند.

ايشان افزودند : دستاورد امارت اسلامي-افغانستان در عرصه هاي مختلف واقعيت هاي تاريخي اند كه جهانيان نميتوانند از آن اغماض نمايند. مردم مسلمان ويادبانت افغانستان كه در سالهاي جهاد از هيچگونه فداكاري و دادن قرباني دريغ نورزيده اند.

روز تاروز صفوف مدافعان سر سپرده و مجاهدين قهرمان افغانستان را تحكيم مي-بخشند كه بايد باين امر افتخار نمود زيرا خدمت در راه تحقق احكام پروردگار عالميان بزرگترين افتخار هركدام ما وشما ميباشد.



په بنګله دیش کې هر کال اوه زره ښځې پلورل کیږي

داکه -ANN- په منځنی ډول هر کال په بنګله دیش کې اوه زره ښځې په داسې کسانو پلورل کیږي چې بهرنیو هیوادونو ته یې لیږدوي او زیاتره یې دهند او منځني ختیځ دبدکارانو لاس ته ورځي ، کوم چې په ناولیو معاملو کې له هغوی څخه کار اخلي ، دبنګله دیش د ښځینه څارنې یوې ټولنې په خپل رپوټ کې ویلي چې د (۱۹۹۷) کال په اوږدو کې (۱٤٥٥۱) ښځې ، په کال (۱۹۹۸) کې (۱۰٤۷) تنه او په کال (۱۹۹۹) کې (۸٦۰۰) ښځې په دې ډول پلورل شوې او تښتول شوې دي ، دریوټ له مخې نوموړې ښځې په عمومي ډول دبې وزلو کورنیو سره تړاولري او دا چې عمرونه یې د (۱۷-۲۰) کلو ترمنځ وي نو زیاتره یې دیوې ښې راتلونکې او بریالي کوزدې په هیله د غه ډول کسانو سره اړیکې نیسي.

په امریکا کې دایډز له لاسه په سلګونو پادریان مړه شوي دي

دامریکې یوې سیمه ایزې ورځپاڼې دا خبر خپور کړی چې هلته د نورو وګړو په پرتله درومن کاتولیک پادریان زیات په ایډز اخته شوي دي څو دمرګ په هکله یې نور بیلا بیل لاملونه ښودل شوي ، دورځپاڼې ترمخه دکال (۱۹۸۰) نه راپه دې خوا په سلګونو پادریان په همدې ناروغی وژل شوي او په ډیرونور وکې یې مکروب موندل شوي ، که څه هم داخبره دمختلفو کتنو په ترڅ کې لامخکې څرګنده وه خو دکلیسا واکمنو ددې راز دپټولو ډیرې هڅې کړې دي.

دکنساس دسیمې یومذهبي مشر په دې خبره اعتراف کړی چې پادریان هم بنیادمان او دجنسي غریزې خاوندان دي نوځکه په دې هکله دې په هغوی څه پړه نه وراچول کیږي ورځپاڼې زیاته کړې چې د (۳۰۰۰) دری زرو پادریانو دکره کتنې څخه معلومه شوې چې په (۸۰۱) کسو کې ددې ناروغی جراثیم لیدل شوي دي.

یوه هلک دخپل پلار او ورور قاتل ووژه

پیښور : یوه یوولس کلن هلک دپیښور دمحکمې په انګړ کې دپولیسو په وړاندې دخپل پلار او ورور قاتل و واژه . درارسیدلو خبرونو په حواله دشاه حسین په نامه یو تنکي هلک دخپل پلار او ورور قاتل چې نیاز نومیده او دپولیسو له خوا دپیښور له مرکزي زندان څخه محکمې ته لیږدول کیده دقاضي له دفتر څخه بهر په تمانچه وویشتو او ځای پر ځای ئې وواژه په دغه ډزو کې دوه تنه پولیس هم سخت ټپیان شویدي تر پیښې وروسته هلک دنورو پولیسو له خوا ونیول شو شاه حسین له خبریالانو سره په خبرو اترو کې څرګنده کړې ده چې نیاز وګې څو کاله له مخه دشخصي دښمنۍ پر بنا دده پلار او وریسې دوه کاله مخکې ئې دده زلمې ورور په ډیره بې رحمۍ سره وژلی وو ده زیاته کړه چې له ډیرې مودې راهیسې مو ر مې ماته دبدل اخستلو سبق راکولو او په دې لړ کې ئې یوه تمانچه هم اخستې وه او داستعمال په هکله ئې ماته پوره لارښونه کړې وه چې په پای کې زه خپل آرمان ته ورسیدم او دخپل پلار او ورور قاتل مې دهغه دعمل په سزا ورساوه زه په دې کار هیڅ پښیمانه نه یم او وروسته تر دې به ماته فکري هوساتي راپه برخه شي.

د آریانا افغان هوائی ...

دلیږدونې دنیتې په اړه وویل انشأ الله د ۱٤۲۰ هجري قمري کال د ذوالقعدې دمیاشتې په ۱۳/۱٤ نیټه به دهغوی لومړنی جو په دسعودي عربستان دجدې ښارته انتقالیږي.

هغه وویل چې سږ کال دحج دفریضې د اداکولو لپاره دافغاني حجاجو سهمیه ۱۲۰۰۰ تنه وچې تر اوسه پورې نږدې ۸٥۰۰ تنو خپل نومونه دحج و اوقافو په وزارت کې ثبت کړي او هغوی به له کابل ، کندهار ، هرات ، مزار شریف او جلال آباد څخه لیږدول کیږي.

چې دهمدې حاجیانو لپاره په داخل او همدارنګه په سعودي عربستان کې د اوسیدو مناسب کمپونه ترتیب او په پام کې نیول شوي او همدارنګه دهغوی لپاره دحج دمناسکو دتعلیم پروګرام هم د دیني علمأ کرامو لخوا دحج کولو په اثنا کې تر سره کیږي محترم مولوي صاحب حقاني د هغو محترمو افغاني حجاجو په اړه چې په پاکستان کې اوسیږي او نیت لري چې داسلامي امارت لخوا حج ته ولاړ شي وویل :

مونږ دحج او اوقافو وزارت استازي پاکستان ته لیږلي تر څو هلته داسلامي امارت په قونصلګریو کې دافغاني حاجیانو نومونه دحج کولو لپاره ثبت کړي.

داطلاعاتو او کلتور ...

مشرۍ دفرهنګي او دنشراتي چارو او فعالیتونو دڅیړنې او تنظیم په مقصد دهیواد دشمال سیمو ته تللی دی په دې وروستیو وختو کې بغلان ته رسیدلی دی

داطلاعاتو او کلتور محترم وزیر پرون له غرمې مخکې دبغلان ولایت له مرستیال محترم ملا عبدالرزاق نقشبندي سره په دغه ولایت کې د نشراتي او فرهنګي فعالیتونو د ښه والي او پراختیا په باب خبرې اترې وکړې او وروسته یې دشریعت غږ رادیو دباختر داطلاعاتي آژانس امارتي مطبعې او ددغه ولایت دنورو فرهنګي مرکزونو په ګډون دبغلان ولایت د اطلاعاتو او کلتورریاست بیلا بیلې برخې پداسې حال کې وکتلې چې په هره برخه کې دبغلان ولایت داطلاعاتو او کلتور د رئیس محترم ملا سمیع الحق لخوا معلومات وړاندې کیدل او په دغه ولایت کې یې دفرهنګي اونشراتي فعالیتونو د پراختیا او دکار دلا ښه سمون او ښه والي په لاره کې ددغو برخو چارواکو او کارکوونکوته لازمې سلا مشورې ورکړې.

جعبه سیاه طیاره ...

طیاره مودن ایربس سه صدو ده متعلق به شرکت هوائي کینیا روز یکشنبه گذشته در دو دقیقه بعداز پرواز از میدان هوائي ابیجان در ساحل عاج به بحر سقوط نمود. درین سانحه یکصدو شصت ونه نفر به هلاکت رسیده اند.

حکومت انگلستان ...

حکومت ایرلند شمالي که چندي قبل تشکیل گردیده است ازکار معلق خواهد گردید.

حکومت انگلستان درنظر دارد در صورت لزوم اداره امور ایرلند شمالي را مستقیماً تحت کنترول خود قرار دهد پارلمان انگلستان به روز پنجشنبه آینده درین رابطه تشکیل جلسه داده و تصامیم لازم اتخاذ خواهد کرد.

د عامې روغتیا محترم ...

واخیستـه او اړوکسانو او ناروغانو ته د روغتیایي خدمتونو په لاره کې دافغانستان داسلامي امارت د لوړو هدفونو دبیانولو په ترڅ کې یې اړونده چارواکي او داکتران خپلو ستړو دندو ته ځیر کړل او بیا یې دفاریاب ولایت دعامې روغتیا ریاست د سل بستریز روغتون بیلا بیلې برخې ، په دغه روغتون کې بستر ناروغان وکتل او ددغو برخو دروغتیایي چارو له څیړنې وروسته یې د چارو دلازیات ښه والي په لاره کې ددغه ولایت مسئولینو داکترانو او روغتیایي پرسونل ته ګټورې سلا مشورې ورکړې .

د نهمې حوزې له ...

درمل ترلاسه شویدي چې د موظف هیات لخوا له منځه یوړل شول او دغه راز شهنشاه درملتون د دولسو ورځو لپاره او دفضای عصري درملتون دیوې میاشتې لپاره تړل شویدي.

دغه راز دکابل ښار په لومړۍ ناحیه کې دمجتبی درملتون دعامې روغتیا وزارت له روغتیایي قوانینو څخه دسرغړونې له امله دیوې میاشتې لپاره تړل شویدي.

دپکتیا ولایت دسید کرم ...

مشرې خیلو ، له یس خیلو ، راوت خیلو ، شاکی خیلو ، خاست خیلو ، قادر خیلو ، جنګي خیلو ، یار ګل خیلو او دتابیک خیلو او احمدزو دکلیو ددیندارو خلکو په ګډون په دغو سیمو کې جوړې شویدي د پکتیا ولایت دعالمانو شورا رئیس محترم مولوي عبدالظاهر او ددغه ولایت دمرافعه محکمې دجزا د دیوان رئیس محترم مولوي محمد ملتان په دغو جرګو کې په برخې اخیستنې سره په بیلا بیلو برخو کې د افغانستان داسلامي امارت شرعي هدفونه او اقدامات بیان کړل.

او له هغوی نه یې وغوښتل چې دهر راز اخلاقي مفاسدو او غیر شرعي عملونو پرخلاف مبارزه وکړي.

په مقابل کې محترم مدیر محمد جان ، کامران محترم حاجي سردار محترم حاجي جلال الدین محترم مدیر اکبر جان او محترم حاجي ګل محمد دنورو په نمایندګي دویناوو په کولو سره دافغانستان داسلامي امارت دشرعي هدفونو او کړو وړو دتائید کولو په ترڅ کې د هغو دعملي کولو په لاره کې خپل تیاری څرګند کړ.

دګردیز ښار ...

او دلمونځ کوونکو داستفادې وړ وګرځید.

دګردیز له ښار نه دباختر داطلاعاتي آژانس خبریال خبر راکړ دګردیز ښار دصالو خیلو دکلي جامع جومات چې دجوړولو کار یې دروان کال په لومړیو وختو کې د دوه زره مربع متره ځمکې په ساحه کې ددغه ځای دخلکو په مالي لګښت او همکارۍ په پاخه او اساسي ډول پیل شوی و په دې وروستیو وختو کې پایته ورسید او له پرانستل کیدو وروسته د لمونځ کوونکو داستفادې وړ وګرځید . دغه جامع جومات چې دسیمې دخلکو له مرستې او همکارۍ څخه دیوزرو اته سوه ملیونو افغانیو په لګښت جوړ شویدی دتیرې پنجشنبې په ورځ دهغې غونډې په ترڅ کې چې دکار او د ټولنیزو چارو دلوی رئیس محترم مولوي مخدوم عبدالسلام سعادت ، د پکتیا د ولایت مرستیال محترم مولوي کرامت الله فرقان یار داطلاعاتو او کلتور وزارت د اداري او مالي عمومي رئیس محترم مولوي ګل حسن « حسن » دپکتیا ولایت دبیلا بیلو امارتي ادارو دچارواکو دقومونو او قبایلو د مشرانو مخورو او علمای کرامو او ددغه ولایت دمدرسو داستادانو په ګډون جوړه شوې وه پرانستل شو . دصالو خیلو دکلي جامع جومات دګردیز ښار له جامع جومات وروسته په دغه ښار کې دویم ستر جامع جومات دی.

د ګڼون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

تبصره

نظري بر اظهارات اخير آقاي اخضر براهيمي

گفته مي شود كه آقاي اخضر براهيمي نماينده قبلي سازمان ملل متحد در امور افغانستان طي سخنراني در پوهنتون اقتصادي لندن اظهار داشته است كه افغانها گروگان پنجاه هزار مليشه طالب هستند. با توجه به اظهارات مذكور، هر صاحب نظر مسائل بين المللي به اين نتيجه مي رسد كه واقعاً آقاي اخضر-براهيمي يك شخصيت خيلي واقعيت ناشناس بوده و اگر به دوره فعاليت آقاي براهيمي در قبال مسائل افغانستان نظر اندازي گردد و اضح خواهد شد كه آقاي مذكور به وظيفه ومسئوليت سپرده شده خود توجه شاياني مبذول نداشته هفته ها و ماه ها از منطقه غايب بوده و هر زماني كه هواي سير وسياحت در ذهنش خطور كرده با دريافت مصارف گزاف در بدل مأموريت خويش قدم رنجه فرموده ، به منطقه تشريف آورده از دعوت هاي مجلل در ممالك همجوار افغانستان بهره مند گرديده و در پايان بدون اينكه واقعاً در قبال مشكلات افغانستان به اصطلاح دردسري را متقبل گردد ويا حقايق موضوع را دريافت نموده وبه مؤسسه ملل متحد و جهانيان ابلاغ نمايد دوباره بدون سر وصدا وكسب كدام نتيجه منطقه را ترك نموده و به مصرف عوايد سفرش پرداخته است ، اگر آقاي براهيمي با خلوص نيت و واقعيت پسندي كامل مسائل و معضلات جاري در افغانستان را دنبال مي نمود و با توجه به واقعيت هاي موجود در افغانستان طرفين قضيه را قناعت مي داد بدون شك كه ماموريتش به موفقيت به پايان مي رسيد و افتخار تاريخي را در سازمان ملل متحد كمايي مينمود. اما متأسفانه كه آقاي مذكور هر باري كه به منطقه آمد طرح هاي پوچ و غير-عملي را طرح نموده و بدون اينكه بداند ملت مجاهد افغان چه آرزو دارد؟ در كشور شان چگونه نظامي را مي پذيرند؟ از كدام قيادت و زعامت حمايت مي نمايند و بدون اينكه پرسش هاي فوق را در جريان چشم ديد هاي خويش حل نموده و نتيجه قضاوت خود را به ديگران نيز ابلاغ نمايد هر بار بدون كسب نتيجه ماموريتش را قطع نموده و ورود آينده اش را ماه ها به تعويق انداخته است . حال كه آقاي براهيمي ملت افغان را گروگان امارت-اسلامي افغانستان مي داند از آقاي مذكور بايد پرسيد مهرباني كرده بايد جواب بگويد كه امارت اسلامي اصلاً توسط كي به ميان آمده ؟ از كجا نشئت نموده ، توسط كدام قوت حمايت گرديده و امروز توسط كدام نيرو پاليسي هاي مدبرانه اش عملي ميگردد ؟ اگر ملت مجاهد افغان جزء تحريك طالبان نباشد و از نظام شرعي نافذه در كشور حمايت نمي كند پس نظام شرعي نافذه دركشور چگونه تطبيق گرديده و چرا هيچ عكس العمل در برابر آن ظهور نميكند. بدون شك كه پنجاه هزار طالب در صورتيكه حمايت ملي با آنها نباشد به هيچ وجه نميتواند تا نظام اسلامي را در كشور تطبيق نموده و برببش از نود فيصد خاك كشور حكمروايي نمايد، درحاليكه ملت مجاهد افغان آن ملتي هم نيست كه كسي به زور بالاي آنها حكومت نمايد اگر چنين فرضيه صدق مينمود ويا استفاده از قوت نظامي بر مردم افغانستان حكومت مي شد شايد اتحادجماهير شوروي سابق با آن همه ساز وبرگ نظامي خويش براين ملت حكومت مي راند در حاليكه ارتش دوصد وچهل-هزارنفري شوروي سابق نتوانست به زور بالاي افغانها حكومت كند به گفته براهيمي پنجاه هزار طالب نيز به هيچگونه چنين كار را نمي توانست انجام دهد حال كه امارت اسلامي افغانستان به رهبري تحريك اسلامي در كشور حكمروايي مينمايد بدون شك واضح است كه حمايت ملت را باخود داشته و ملت افغان به هيچ صورت گروگان نبوده بلكه حامي و حافظ اساسي امارت اسلامي-افغانستان است . اينكه آقاي براهيمي اصطلاح گروگان را به مردم افغانستان به كار مي برد بر علاوه اينكه از حقايق چشم پوشي مينمايدبه گونه غير مستقيم ملت مجاهد ما را توهين نيز مي-نمايد زيرا ملت آزاده ما هيچ زماني زندگي تحت اسارت ودر حال گروگان رانه پذيرفته و نخواهد پذيرفت ، حقيقت اينست كه ملت مجاهد افغان حامي قلبي امارت اسلامي افغانستان بوده ، و رهبري فعلي را پيشوايان عقيدوي و ملي خويش دانسته و تاپاي جان از آنها دفاع مينمايند و ا.ا.ا نيز خدمتگار وناجي ملت ستمديده افغان بوده و آنها را در آغوش پرعطوفت خود جامي دهد - نه كه آنها را گروگان مي گيرد !!

SHARIAT WEEKLY

Published by :

Islamic Emirat of Afghanistan

Chief Editor: *Abdurrahim Saqeb*

Printed by: Emirat Printing Press